# مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا». "چا چې په ښه توګه اودس وکړ، بيا د جمعې لمانځه ته راغی، چپ کېناسته او غوږ يې ونيوه، نو په دريو ورځو سربېره به يې د دواړو جمعو تر منځ ګناهونه وبخښل شي، او څوک چې په شګو کې لاس ووهي نو د هغه جمعه لغوه شوې ده.«

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې چا ښايسته اودس وکړ؛ رکنونه، سنتونه او آداب يې پر ځای کړل او بيا د جمعې لمانځه ته راغی، چپ شو او امام ته يې غوږ ونيو، له بې هوده ويلو چپ پاتې شو، نو الله تعالی به يې د لسو ورځو واړه ګناهونه ورته وبخښي؛ د دې جمعې د لمانځه څخه تر راتلونکي جمعې پورې او درې ورځې پرې اضافه؛ ځکه چې نيکي يو پر لس چنده ده. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر هغه کار په اړه خبرداری ورکړ چې د خطبې له پندونو او نصحيتونو څخه زړه مشغولوي لکه: په اندامونو عبث کارونه کول، مثلا په ګېټو (کاڼو) کې ګوتې وهل او داسې نورې بې ځايه کړنې او دا چې چا دا کار وکړ نو هغه عبث کار کړی، او څوک چې عبث کار وکړي نو د هغه لپاره د جمعې په بشپړ اجر کې برخه نه شته.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee